عبدالباری جهانی ۲۰۱۲/۰۱/۱۹

# افغان شال

یوه له هغو مهمو کلمو څخه چی زموږ محققینو لږ توجه ورته کړی او یا یی تقریبا هیڅ توجه نه ده ورته کړی هغه د افغان شال تاریخی کلمه ده، چی د لومړي ځل د پاره په تاریخ بیهقي کی راغلی او بیا زموږ په تاریخی متونو کی چندانی اشاره نه ده ورته سوی.

د تاریخ بیهقی په ۳۰۴ مخ کی راغلي دي" ... مسعود له هغه باغ څخه راووت او د صحرا پر لور رهی سو، او لویان او معتبرین هم ورسره وه. افغان شالي ته، د امیر عادل سبکتګین قبر ته، ورغی. کښته سو او زیارت یی وکړ. د قبر متولیانو ته یی لس زره درهمه ورکړل او له هغه ځایه دولتی قصر ته ولاړ" په همدغه کتاب کی په ۳۰۹ مخ کی راغلي دی چی درود پر هغه غاړه چی د افغان شال خواته دی، ډیر سلطانی آسونه تړلي وه. او په ۳۲۴ مخ کی راغلي دی چی امیر په افغان شال کی قصر محمودی ته ورغی.

ایراني محقق مرحوم استاد سعید نفیسی د تاریخ بیهقي د کتاب د ۳۰۴ مخ په حاشیه کی داسی توضیح ورکړی ده چی نه یوازی د کلمی د مفهوم سره سر نه خوری، بلکه موضوع یی نوره هم پیچلی کړی ده. مرحوم سعید نفیسی لیکي" شالی د وریجو معنی ورکوی، او شالی زار او شالی کوب ورڅخه مشتق سوي دی. او افغان شالی ښایي د غزنی د هغی سیمی نوم وی چی وریجی پکښی کرلي کیږی، او سبکتګین یی هلته ښخ کړی دی. او یا ممکن افغان شال وی او یا افغان چال د چاله په مفهوم".

که څه هم چی دا داسی توضیح ده چی هیڅ سوال ته جواب نه وایی او پخپله سعید نفیسی هم بالاخره په پټه خوله ورڅخه تیر سوی دی، خو مرحوم عبدالحي حبیبی د افغان شال په نوم مقاله کی د سعید نفیسی دغی حاشیی ته توجه کړی ده او په جواب کی وایی چی د بیهقی له مخکني صراحت څخه ښکاری چی مسعود له باغ څخه د صحرا پر لوررهی سو او د سلطان عادل سبکتګین قبر ته ورغی، او اوس حاضر هم د سبکتګین قبر پر یوه لوړه غونډۍ پروت دی چی هلته د وریجو کرل څکه چندانی امکان نه لری چی وریجی ډیرو زیاتو اوبو ته ضرورت لری او په صحرا او تپه کی کرلی کیدلای نه سی.

البته پخپله مرحوم حبیبی هم د خپلی مقالی په ترڅ کی دغه نامه ته قانع کونکی جواب نه دی پیدا کړی. هغوی د شال کلمه توضیح کړی ده خو د افغان شال کلمی ته یی سم حل نه دی پیدا کړی. مرحوم حبیبی صاحب وایی چی د شال کلمه اصلا درشال او هغه د پښتو ژبی د درشل په معنی ده چی معنی یی چارچوب او درګاه ده. مرحوم حبیبی وروسته وایی چی د شال کلمه په یوازی ډول هم د جغرافیايي ځایونو په نومونو کی لیده کیږی لکه شال د بلوچستان د کویټی پر ځای چی اوس یی پښتوژبي شال کوټ بولی. ( پنجاه مقاله ص ۲۳۹) مشهور انګریزی مستشرق میجر ایچ جي راورټي Major H.G.Raverty چی د غزني په باره کی یی یو وړوکی کتاب لیکلی دی، د افغانانو سره د سلطان محمود هغي جګړی ته اشاره کوي چی سلطان پر هغوی باندي د بی نظمی د منځته راوړلو او چور او تاړاک اچولو په انتقام کی وکړه او وروسته وایی چی سلطان د دوی یو شمیر کسان د یرغمل په توګه په غزني کی ځای پر ځای کړل او هغوی ته یی یو ځای ورکړ او هغه یی افغان شال وباله. دغه ځای د غزني د سیند لویدیځي خواته پروت وو او د غزني په حدودو کی شامل وو. په تاجیکی ژبه کی شګال Shgal د توکره یوی توتی ته وایی نه هغه څه ته چی شال بلل کیږی. Ghaznin P 79 البته راورټی موږ ته نه وایی چی د افغان شال په باره کی یی دغه دقیق معلومات له کومه کړي دي او شګال هم، د هغه د ترجمی په خلاف، په فارسي ژبه کی د توکره کومي توتی ته نه بلکه زغال او سکرو ته وایی. (فرهنګ عمید)

خو زه په دی عقیده یم چی شال، سال او شاله په هندي ژبه کی ژوندی پسوند یا سوفیکس دی او لکه پاټ شاله Path Sala ښوونځی، ویایم شاله Viayam Sala د سپورټ او ورزش ځای، مدوشاله Madhu Sala د شرابو د چښلو ځای یا په انګریزی اصطلاح پب Pub ، ګاوشاله Gaw Sala د غواوو ساتلو ځای، پشو شاله Pashu Sala د حیواناتو یا ځارویو د خوندی کولو ځای، درم شاله Dahram Sala د وریا اوسیدلو او ډوډۍ خوړلو ځای، آګنی شاله Agni Sala د اور لګولو ځای، او داسی نور. شاله ګراما Salagrama هغه مقدس ځای ته ویل کیږی چی خلک د زیارت کولو لپاره ورځی، دی ځای ته په بیلو بیلو متونو کی اشاره سوی ده خو تاکلی ځای یی مشخص نه دی. ویل کیږی چی د اګني دارا Agnidhara ، بهارتا Bharata او نورو ځایونو پاچاهانو به دلته د توبی ایستلو عبادت کاوه. (A Classical Dictionary of India P511) دغه راز افغان شاله هم زما په عقیده د افغانانو د اوسیدلو ځای ته ویل کیدی. خو څرنګه چی نه بیهقی او نه ګردیزی او نه په هغه وخت کی کوم بل مورخ په دغه سیمه کی، چی بیهقی اشاره ورته کوی، د افغانانو د اوسیدلو ذکر کړی دی، او حتی بیهقی خو بیخی د افغان کلمه په مستقله توګه یاده کړی نه ده، نو د دی معنی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په څیر و لولئ

به دا وی چی د غزني ښارته نیژدی، په دغه سیمه کی چی بیهقی اشاره ورته کوی، په افغان شاله یا افغان شال کی ډیر مخکی افغانان اوسیدلي وی. او په دغه وخت کی چی ابوالفضل بیهقي خپل کتاب لیکی دا افغانان ښایی ددغی سیمی څخه، چی اوس یی هم په شاوخوا کی د پښتنو بیل بیل لوی قومونه اباد دی، پخپله کوچیدلي او یا د هغو داخلی جنګونو، چی تاریخ یی ذکر نه دی کړی، او یا هم د کوم خارجی یرغلګر له زوره له دغی سیمی څخه کوچیدلي وي، او د سیمی نوم یی د بیهقی تر وخته پوری ژوندی پاته و.

نه د تاریخ بیهقی د لیکوال په عصر او نه د بیهقی څخه وروسته په کوم بل کتاب کی د افغان شال د کلمی ذکر راغلی دی. په زړه پوری خبره دا ده چی ظهیرالدین محمد بابر په خپل توزوک کی افغان شال ته د قوم په حیث اشاره کوی او د لهوګر د سیمی د معرفی په برخه کی وایی چی چرخ د لهوګر یوه بله علاقه ده، ډیر باغونه لری مګر د لهوګر په نورو کلیو کی هیڅ باغ نسته. خلک یی اوغان شال دي. دا اصطلاح په کابل کی عامه ده او داسی ښکاری چی دا به د اوغان شار غلط تلفظ وی. (بابرنامه انګلیسی ترجمه. د لاهور د سنګ میل چاپ ص ۲۱۷) بابر بل ځای د زرمت په باره کی لیکی چی خلک یی اوغان شال دي، دوی جوار کری او نه انګور لری او نه باغونه.(هغه کتاب ص ۲۲۰) دلته بابر افغان شال ته، د منطقی نه، بلکه د قوم په سترګه ګوری او دواړه ځله د افغان پر ځای اوغان لیکی. په داسی حال کي چی بل هرځای د دغه قوم په باره کی خبری کوی نو افغان لیکی. ځکه چی بابر د یوه سترګه ور جنرال په حیث د افغانانو له قوم او قبیلو سره تر ډیرو زیاتو کسانو زیاته اشنایی لري. کله چی بابر د پښتنو په هره سیمه کی جلا جلا له مقاومت سره مخامخ کیږی نو د تقریبا ټولو مهمو قبایلو نومونه یادوي. د زرمت څخه وروسته د بنګښ د سیمی نوم یادوي او وایی چی په دغه سیمه کي هر ځای افغانان داړه ماري کوي او وایی چی دلته خوګیاني، خیریلچي، توري او لندر میشته دي. بابر وایی دغو افغانانو هیڅ وخت مالیه نه ده ورکړی، او هیڅا تابع کړي نه دي. دی وایی ډیر لوی کارونه یی په مخ کی دي . باید قندهار، بلخ، بدخشان او هندوستان ونیسي، خو که خدای کول او فرصت یی پیدا کړ نو د بنګښو چاره به وکړي.( هغه کتاب هغه مخ) د خیریلچي څخه د بابر مطلب ښایی غلجي وي. ځکه چی غلجي قبایل، په تیره بیا احمدزي کوچیان، تر اوسه هم په دغه یاده سوی سیمه کی اباد دي. څرنګه چی دا ټولي سیمی په جغرافیایی لحاظ ډیری سره نیژدی دي نو ددی خبری امکان هم ډیر لیری نه دی چی افغانانو ته، او یا په دغه سیمه کی د افغانانو کومی لویی قبیلی او یا څو قبیلو ته، به افغان شال ویل کیدل.

دا هم له امکانه لیری نه ده چی افغانان ښایی د ښه ډیر وخت دپاره د دی سیمی څخه وتلي او بیا نه وي ورته راغلي، او یا ښایی د همدااوس په شان په همدغو سیمو کی آباد وه، او احتمال لري چی د کوچیانو په شکل به یی ژوند کاوه او یوازي به د پسرلي او اوړي په موسمونو کي، پخپله په افغان شاله کی اوسیدل، او درباری ادبیاتو، چی ټول په فارسی او عربی ژبو وه د هغوی د اوسیدلو د سیمی نوم ته تغیر ورکړی وی. خو په دغه وخت کی په هغه سیمه کی د ګڼ شمیر ځایی او کلیوالي افغانانو د اوسیدلو احتمال ځکه یو څه کمزوری ښکاری چی د بیهقی په څیر سترګه ور او دقیق لیکوال به حتما د هغوی ذکر کړی وای، او که نور هیڅ نه وای نو د سلطان مسعود د ملا ماتونکو مالیاتو په مقابل کی خو به یی عکس العمل ښودلی وای. ګواکي سړی ویلای سي چی لږ ترلږه د سلطان محمود او مسعود په زمانو کی به افغانانو په غزني او د غزني په شاوخوا کی ځایی ژوند ځکه نه وي کړی چی د هغي سیمي زیاترو اوسیدونکو پښتنو ان تر دی وروستیو وختونو پوري د مني او ژمي سړی شپی ورځي تودو سیمو ته رسولی او خپل د مالداری تجارتي محصولات، وړی، غوړي او پوستکي یی تر هند او سیند پوري وړل.

ابوریحان البیرونی او د حدودالعالم، نامعلوم لیکوال ، چی دواړو خپل آثار د سلطان محمود او سلطان مسعود په زمانو کی لیکلي دی، د غزني په شاوخوا سیمو کی د افغانانو اوسیدلو ته اشاره نه کوی. په داسی حال کی چی دواړه لیکوالان د دی قوم د نامه سره بلد دي، او په خپلو کتابونو کی یی اشاره ورته کړی ده . د حدودالعالم لیکوال، چی نوم یی څرګند نه دی، د ګردیز په باره کی د بحث په ترځ کی د سول په نوم کلي ته اشاره کوی او وایی چی هغه د نعمتونو ډک دی او افغانان پکښي اوسیږی.( حدودالعالم ، د کابل د ۱۳۴۲ کال چاپ مخ ۳۷۹) ابوریحان البیروني په کتاب الهند کی د افغانانو د اوسیدني ځای ته یوه لنډه اشاره کوی او وایی چی د هند په لویدیځه پوله کی په غرونو کی د افغانانو بیل بیل قبایل اوسیږی او د اوسیدني سیمه یی د سیند تر وادي پوري غځیدلی ده. (Alberuni’s India Vol 1 p 209) د دی خبری احتمال ډیر لږ دی چی دومره یو لوی قوم، چی په دومره پراخه سیمه کی دي پروت وي او د زرمت، لهوګر او غزني په سیمه کی یی یادونه سوی وي، د دغو دواړو لیکوالانو په وخت کی د افغان شال په علاقه کی اباد نه وه. سوال دا دی چی دغه لوی قوم ددغو کتابونود لیکل کیدلو په وخت کی چیری پروت وو، او د وخت پر تاریخی پیښو یی اغیزه څه وه. عتبي، چی خپل تاریخ یی د سلطان محمود په زمانه کی لیکلی دی، موږته وایی چی افغانیانو په غرونو کی ځایونه نیولي وه او وروسته له هغه چی سلطان د قنوج له غزا څخه را ستون سو د هغه اتباع یی چور کړل. سلطان له غزني څخه را ووت او نا څاپه یی پر هغوی باندي حمله وکړه او ډیر زیات خلک یی ووژل. ( ترجمه تاریخ یمینی ص ۳۸۹) البته د حمدالله مستوفي له وینا څخه ښکاري چی افغانانو د سلطان محمود په زمانه کی پخپله په غزني او د غزني په شاوخوا کی ژوند کاوه. دی وایی چی افغانیانو د سلطان په ملک کي خرابی وکړی او کله چی سلطان له قنوج څخه غزني ته ورسیدی نو پر هغوی باندي یی ناڅاپي حمله وکړه او اکثر یی له تیغه تیر کړل. ( تاریخ ګزیده ص ۳۹۴ ) زه فکر کوم چی هندیان د افغان له کلمی سره، لږ ترلږه د حدوالعالم د لیکل کیدلو څخه، چی د لومړي ځل دپاره یی د افغان

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کلمه ذکر کړی ده، ډیر مخکی او یا ښایی پیړۍ مخکی بلد وه، او دهغوی د اوسیدني سیمی ته یی افغان شال وایه. دا خبره پر ځای ده چی د بامیان څخه نیولی بیا تر غزني، لهوګر او زرمت پوری سیمی کله ټولي او کله یی یوازی یوه برخه د هندو راجه ګانو او امپراطورانو، او په عمومی توګه هندو کلتور، تر سلطی لاندي وی. او څرنګه چی ډیر زیات افغانان پخپله هم تر ډیره وخته پوري په قومي، عقیدوي او ژبني ډول له راجپوت قبایلو سره تړلي وه، د افغان قوم له نامه سره به یی د خپلی ژبی لاحقه پری ایښی وی.

یوه بله خبره چی د افغان شال له نامه څخه ثابتیږی هغه به داوی چی افغانانو د هندوانو او هندوراجه ګانو او راجپوت قبایلو په منځ کی د ډیرو پخوانیو زمانو راهیسی د یوه جلا قوم په حیث ژوند کړی او خپل هویت او نوم یی درلودی. په یوه تاریخی متن کی موږ ګورو چی د سلطان محمود غزنوي تر زمانی پوري ډیرو زیاتو افغانانو چی د راجپوت د اشرافو طبقی ته منسوب ول اسلام نه وو منلی. او په زړه پوري خبره دا ده چی د راجه جیپال په دربار کی هم د یوی جلا طایفی په سترګه ورته کتل کیدل. فخر مدبر، چی د غزني د وروستیو پاچاهانو زمانه او د غزني تباه کیدل یی په سترګو لیدلي دي، په خپل کتاب کی د راجه جیپال په دربارکی د یوه افغان مشر ،چی دی وایی د نردري په نوم یوی سیمی کوټوال وو نوم یادوي، او وایی چی ادیرا نومی افغان ځکه د جیپال څخه وبیریدی چی هغه د غوایی د غوښو د خوړلو په باره کي پوښتنه ورڅخه وکړه. ده ورته وویل چی ما د غوایی غوښي نه دي خوړلي خو پلار او نیکه می خوړلي دي. نو داسی یی وګڼه لکه ما چي خوړلي وي. ادیرا، د راجه جیپال له ویري، وروسته غزني ته وتښتیدی او د سلطان محمود پر لاس مسلمان سو. سلطان ته یی هغه پټي لاري وښودلی چی د پیښور د لاري د راجه جیپال د بګرام قلا ته رسیدلي وي. سلطان د راجه جیپال پر هغه قلا باندي سخته حمله وکړهو د راجا لښکرو ته یی ماته ورکړه او په جنګ کی یی درانه تلفات ورواړول.( آداب الحرب و الشجاعه ص ۳۱۶)

انګریزی مستشرق والټر بیلیو H.W. Bellewوایی اکثرو افغانی قبایلو د ژوندیو هندي قومونو څخه نشأت کړی دی. دی په خپل کتاب An inquiry into the Ethnography of Afghanistan کي د پښتنو د هغو لس هاوو قبایلو نومونه اخلي چی د هندوانو د راجپوت قبایلو ته ورته دي او وایی چی زیاترو پښتنو قبایلو د راجپوتانو له سیمو څخه نورو خواو ته هجرتونه کړي او ځینی لا اوس هم په هغو سیمو کی اوسیږی. او که چیری د ده دا فرضیه ومنو نو دا خبره باید ورسره زیاته کړو چی افغانان له هغه نه چی فکر یی کیږی ډیر پخوا، حتی د راجپوت په قبایلو کی، د یوه مستقل قوم په حیث موجود وه او له نورو قومونو څخه یی جلا ژوند کړی دی. زه پر دی خبری ټینګار کوم چی د افغان سره دهندی ژبی د لاحقی معنی دا ده چی هندیان له عربانو او ایرانیانو څخه مخکی د دی قوم او کلمی سره بلد وه. د دی خبري دلیل دا دی چی افغانان له هره پلوه تر ایرانیانو له هندي راجپوتانو سره نیژدی وه او له عربانو سره خو یی بیخی تماس نه درلود.او دا ویلای سم چی څه کم زرکاله مخکی په یوه خاصه منطقه کی له هندی لاحقی، شال ، سره د افغانانو د سیمی یادیدل دا معنی لری چی دا قوم په دغه سیمه کی، تر هغه چی تاریخی متونو یی یادونه کړی ده ، له ډیری پخوا څخه اباد وو.

بیلیو د ډیرو زیاتو افغاني قبیلو نومونه را اخیستي او هغه یی له راجپوت نومونو سره مقایسه کړي او بیا یی نو دا نتیجه وربانديَ بنا کړی ده چی په اصل کی د ټولو، او لږترلږه اکثریت، پښتنو قومونو او قبایلو ریښه راجپوتانو ته رسیږی. بیلیو حتی بالاخره د خیل او زي ریښی، چي زیاتره پښتني قبایل موږ ته را پیژني، په سانسیکریټ ژبه کی ګوري.( هغه کتاب ص ۱۸) البته بیلیو پخپله هغه نومونه را اخلي او راجپوت قبایلو ته یی منسوبوي چی د هغوی خپل وجود د پښتنو په تاریخ کی افسانوي او جنجالي حیثیت لري. د قیس عبدالرشید پټان دریو،فرضي ، زامنو ته د منسوبو قبایلو نومونه را اخلي او هغوی ته سانسیکریټ ریښی لټوي او د تاریخ له شاګردانو څخه لاره ورکوي. بیلیو وایی سره برني په پښتو کی د غرونو ژبي یا د افغانانو ژبي ته وایی او ریښه یی له هندي سورج بنسي یا سوریا بنسي څخه اخیستی ده چی مطلب یی د لمر اولاد او د راجپوتانو د لمر نژاد دی. دغه راز د غرغښتي لپاره او د بیټني لپاره هم په سانسیکریټ کی خیالي او فرضي ریښی لټوي چی د بحث په اوږدولو نه ارزي.دی په نتیجه کی دا ټول پښتني اقوام او د هغوی هغه افسانوي پلرونه چی ایله په اوه لسمه میلادي پیړۍ کی خلکو ته د فوکلوري نکلونو له لاري ور پیژندل سوي دي سانسیکریټ ژبي او د راجپوت او جاټ قبایلو ته منسوبوي. (هغه کتاب ص ۲۲) دی وایی چی دا قبایل ډهلي ته نیژدی له مهابهارت یا ستر جنګ څخه وروسته د اباسین پوري غاړي ته مهاجر سول. البته پخپله مهابهارت د هندوانو یوه مذهبی افسانه ده او تاریخی اساس نه لري.

اوس نو که د بیلیو د دغي پورتنی نظریی په اساس بیټني، سړبني او غرغښتي قبایل راجپوتانو ته منسوب کړو نو بیا به د بیټ او سړبن له پلار قیس عبدالرشید سره څه کوو. ځکه چی د قیس په باره کی خو موږ یوازي یوه افسانه لرو او هغه موږ ته وایی چی قیس بن اسراییل دی او پلرونو او نیکونو یی ټول عمر له کفارو سره په غزاګانو کی تیر کړی دی. اوس نو که قیس اسراییلی وي نو بیټ او سړبن او هغوی ته منسوب قبایل څرنګه راجپوت دي او که د قیس افسانه یوازي عنعنوي روایت وي نو بیا بیټ او سړبن له کومه کوو. او که دا ټول افسانوي روایات او افسانی وبولو نو بیا خو د بیلیو غریب ټولي خواری اوبو یووړی او حبطه سوی. بیلیو د خپل دی نظر لپاره چی پښتانه او د هغوی زیاتره لوی قبایل راجپوتانو ته منسوبوي ډیر ښه او کره تاریخی دلایل درلودل. خو کله چی یی خپله توجه یوازي د نومونو د مقایسی او تعبیر خواته اړولی ده نو د جوابونو پر ځای یی سوالونه ډیر کړي دي.

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ باید د افغانانو او د هغوی د ټاټوبي په باب تحقیقاتو په ترڅ کی زیاتره پر هغو نومونو او پېښو باندي تکیه وکړو چی تر ممکنه حده صراحت پکښی سوی وي او موږ بېځایه فرضیو او قیاسونو ته مجبور نه کړي. که موږ د یوه قوم د ټول تاریخ او د قبایلود نومونو د بنسټ په باب قضاوت یوازي د نومونو پر ورته والي باندي ودروو نو په قضاوت کي تېر وزو او بالاخره له داسي سوالونو سره مخامخ کیږو چی جوابونه به یی یوازي پر فرضیو ولاړ وي.

موږ به د مثال په توګه د بلوڅو د ځینو هغو قبایلو نومونه واخلو چی کټ مټ د پښتنو د لویو او مشهورو قبایلو په څېر دي. بیا به نو موږ څه کوو؟ موږ به دغه قبایل پښتانه سوي بلوڅان بولو او که به د بلوڅو دغه لوی قبایل بلوڅ سوي پښتانه بولو. ښایی دا دواړي خبري تر یوه حده پوري واقعیت ولري او یا ښایی دواړو لویو قومونو، هسی د اختیار له مخي، خپلو ټبرونو او قبایلو ته د یوه بل په څېر نومونه انتخاب کړي وي. ځکه چی دی دواړو لویو قومونو د زرګونو کلونو راهیسی، چی ابتدا یی تاریخ ته یاده نه ده، د یوه بل په څنګ کی، زیاتره په سوله کی، ژوند کړی دی. بیا نو هیڅ عجیبه نه ده چی دوی به یوه بل ته نومونه ورکړي وي. یا به بلوڅو له پښتنو او یا به پښتنو له بلوڅو څخه نومونه اخیستي وي. همدا اوس حاضر په بلوڅو کی دغه لاندینی قبایل موجود دي. دا البته دونه لوی پښتنی قبایل دي چی که یی له پښتنو څخه لیری کړو د پښتنو سم نیمایی نفوس له منځه ځي.

احمدزیAhmadzai، بارکزیBarakzai ، دینارزیDannarzai، عیسی زیEssazai، ملیزیMallazai، مندوزیMandozai، محمد زاهيMohammadzahi، رحمن زیRahamanzai، سدوزیSadozai، شیرزیSherzai، شیرانيShirani.

البته دا نومونه یوه بل ته تر هغه ډېر ورته، او حتی مساوي، دي چی بیلیو د راجپوت قبایلو د نومونو سره د مقایسه کولو په وخت کي پیدا کړي، په وچ زور یی سره پینه کړي او خواری یی ورباندي کړي دي. اوس به نو بارکزي په بلوڅو کی په خپلو عزیزانو پسي ګرځي او که به بلوڅ په احمد زیو کی خپل عزیزان لټوي. اوس حاضر دواړه قومونه خپل ځانونه مستقل بولي. او د قبایلي عنعناتو په اساس هر یو خپلي قومي افسانی لري. که موږ په پښتنو او بلوڅو قبایلو کی په یوه بل ته ورته نومونو کی پسي وګرځو لا ښایی له نورو، په لس هاوو، نومونو سره مخامخ سو.

که په افغانستان، پاکستان او ټولي نړی کي اوسیدونکو پښتنو سره د هند هغه پښتانه، چی خپله ژبه او کلتور یی له لاسه ورکړی دی، وشمیرو نو نفوس یی لږترلږه اویا میلیونو ته رسیږی. دی لویو قومونو په ډیره پراخه سیمه کی ژوند کړی دی، سولي او جنګونه یی کړي دي، ترک او تاجک قبایل پکښي حل سوي او په مقابل کی یی خپل په میلیونو کسان له لاسه ورکړي او په هند، افغانستان او ایران کي په نورو قومونو او کلتورونو کی منحل سوي دي. او د یوه قوم دونه لوی والی پخپله د هغه د تاریخ د اوږدوالي معنی لري. نو دا به ډیره ګرانه وي چی هغوی یوازي راجپوت ته منسوب کړو او یا یوازي د نومونو پر ورته والي باندي قضاوت وکړو.

بدبختي په دی کی ده چی موږ د پښتنو د تاریخ او قومونو په باب، ان تر نولسمي پیړۍ پوري، تقریبا ټول معلومات او اطلاعات له بیګانه لیکوالانو او فاتحینو څخه ترلاسه کوو. او تر هغه مخکي مو اطلاعات یا د پردیو له خوا پر لیکل سویو تاریخونو او کتابونو او یا پر عنعنوي او فکلوري روایاتو ولاړ دي. حتی د افغانستان موسس، احمدشاه بابا، خپل مورخ، محمودالحسینی المنشي، له ایران څخه راووست او د خپلی پاچهی د ورځنیو پیښو او جنګونو په باب د کتاب لیکلو وظیفه یی ورکړه. هر قوم او فاتح چی افغانستان ته راغلی دی هغه په جنګ راغلی دی او د دغه قوم په باره کی یی خپل نظر او مشاهدات خپاره کړي دي. خو د دښمن په باره کی سم او عادلانه قضاوت کول ډېر ګران کار دی. ځکه نو د هر چا چی هر څه زړه غوښتي دي هغه یی لیکلي دي او موږ به د هغوی په لیکنو کی دلته هلته خپل تاریخ لټوو. پردي جنرالان، فاتحین او د هغوی درباریان او تاریخ لیکونکي زموږ د قومونو په ژبه نه پوهیدل او چی د هر قوم او هر کلي نوم یی هر ډول په غوږ ورغلی هغسی یی لیکلی دی. او په دی ضمن کی لا ځینو فاتحینو او درباري مورخینو پښتنو ته له بدرد ویلو څخه هم ځانونه نه دي ژغورلي. هر چا او هر قوم چی مقاومت ورسره کړی دی هغوی یی غله ، داړه ماران او د امنیت خرابونکي بللي دي او خپل ناروا تیري، د کلیو او ښارونو تباه کول، قتل عامونه، د بیګناه انسانانو وژل او کله منارونه یی قانوني بللي دي.

زموږ ډیرو لیکوالانو او مورخینو د حل ډیره اسانه لاره په عنعناتو کی میندلی ده او چی په تاریخ کی له ستونزي سره مخامخ سي د قیس عبدالرشید پټان نکل ته مراجعه کوي. که څه هم چي په دی دومره ناحله تاریخی سوالونو کی د جواب پیداکول او په دی دومره تاریکیو کی د رڼا ځرک ایستل ګران کار دی خو تر هغه وخته چی لاره موجوده وي موږ به ګامونه اخلو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ